# اتم مارچ

# د ښځو حقونه او مونږ

امجد شهزاد

دا حقیقت اوس ټولو باشعوره خلقو منلے دے چې هغه ټولنې په ښهٔ توګه پرمختګ کولے شي، چرته چې ښځو ته د وړاندې تللو موقعې ترلاسه کېږي او دوي خپله سماجي فریضه او کردار په ښهٔ شان سر ته ورسوي. باچا خان دا خبره په خپلو تقریرونو کښې بیا بیا کړې ده چې ښځه او سړے د ګاډي دوه پایې دي او تر څو چې دا دواړه یو شان رفتار نهٔ کوي یا دواړه په عمل کښې نهٔ وي نو په یوه پایه د زندګۍ ګاډے هېڅکله په وړاندې نهٔ شي تلے.

د ښځو د عالمي ورځې د یوې نیمې صدۍ نه زیات وخت وشو چې نمانځلے شي. په **8** مارچ **1857** د نیویارک ښار د ټُوکو او جامو جوړېدو په یوه کارخانه کښې د ښځو احتجاج وشو. دا ښځې د خپلې کمې تنخوا او ناقصه حالاتو خلاف احتجاج کولو د پاره سړکونو ته راوتلې وې چې پولیس پرې بې پناه تشدد وکړو. یو کال پس هم په دغه میاشت کښې دغه ښځو خپل اولنے لېبر یونین جوړ کړو او بیا هر کال په **8** مارچ د ښځو د حقونو د پاره مظاهرې کولې شوې. په دې کښې تر ټولو لویه مظاهره په **8** مارچ **1908** وشوه چې پکښې د پنځلس زرو نه زیاتو کارکوونکیو ښځو ګډون وکړو. دوي د مزدورۍ د ګېنټو د کمې، ښه او مناسبه معاوضه او د ووټ د حق د پاره په ټول نیویارک ښار کښې مارچ وکړو. په دغه تحریکونو کښې به کله تېزي راغله او کله به غلې شو خو د **1960** په لسیزه کښې د ښځو د حقونو تحریک زور ونیوو چې د دنیا په زیاتو هېوادونو کښې ئې خپل بنیادي حقونه ترلاسه کړل.

نن هم د ښځو ورځ په ټوله دنیا کښې په ډېر زور شور نمانځلے شي. په دغه ورځ لویې لویې غونډې وشي او په دغه غونډو کښې د ښځو د



حقونو او په ټولنه کښې د هغوي د کردار د اهميت د ښکاره کولو دپاره اوږدۀ اوږدۀ او تاؤدۀ تاؤدۀ تقريرونه وشي، قراردادونه منظور شي، احتجاجي مارچونه او واکونه وشي او خبره ختمه شي.

په يورپ، امريکه او نورو غربي هېوادونو کښې ښځو ته د دريمې دنيا د وروستو پاتې او ترقي پذيرو هېوادونو په نسبت زيات حقوق حاصل دي. تر دې مقامه رارسېدو دپاره دوي ډېر اوږد مزل کړے دے. په دغه هېوادونو کښې خصوصاً چې کله د اولني او دوېم عالمي جنګونو نه پس د سړيو د ابادۍ يوه لويه برخه په جنګ کښې ختمه شوه، نو د سړيو د دې "قحط" په دوران کښې ښځې بهر راوتلې او د ژوند په مختلفو څانګو کښې ئې خپل کردار لوبول شروع کړل ځکه چې بغېر د دې نه بله چاره نۀ وه، بيا هم د سرمايه داري نظام له وجې د ښځو پوره پوره استحصال وشو، خو ښځو ته د خپل مقام د ترلاسه کولو دغه يوه ښۀ موقعه وه، حالانکې اوس هم په دغه هېوادونو کښې د ښځو د حقونو ترلاسه کېدو نه پس په دې ډېر بحث ممکن دے چې دوي د دغې حقونو استعمال ترڅۀ حده مثبت کړے دے او دا هم يو سوال دے چې په دغه مترقي هېوادونو کښې ښځه د يو "شو پيس" او "سېکس سمبل" په



توګه وړاندې کول د دې او انسانيت دواړو توهين نۀ دے؟

په مشرقي معاشره او خصوصاً په ترقي پذير او وروستو پاتې هېوادونو کښې کۀ ښځې ته نسبتاً ډېر احترام ورکول کېږي خو په مجموعي توګه ښځه ډېره وروستو پاتې ده يا پاتې کړې شوې ده. دلته د دې په وجوهاتو بحث کول به خبره ډېره اوږده کړي.

د هندوستان د تقيسم نه پس پاکستان کښې وخت په وخت د ښځو د حقونو دپاره اوازونه پورته کړې شوې دي، يو شمېر تجويزونه وړاندې کړې شوي دي او قوانين جوړ کړې شوې دي.

د برصغير د وېش په فساداتو کښې د سرکاري شمېرې مطابق پنځوس زره ښځې تښتولې شوې وې. د دې دپاره مذاکرات پنځۀ کاله پس په **1952** کښې وشول چې صرف اووۀ زره ښځې پکښې پېدا شوې.

پاکستان کښې په وړومبي ځل په **1954** کښې په قانون سازه اسمبلۍ کښې د ښځو د حقونو دپاره يوه مسوده وړاندې کړې شوه، په **1955** کښې په وړومبي ځل د پاکستان د چيف جسټس ميا عبدالرشيد په مشرۍ کښې يو کمېشن قائم کړے شو چې د ښځو دپاره ئې سفارشات مرتب کړل خو په دې سفارشاتو عمل ونۀ کړے شو. **1956** کښې فېملي لاء کمېشن د جسټس رشيد په مشرۍ کښې نور تجاويز وړاندې کړل چې پکښې ښځو ته د طلاق، وراثت او نورو ټولو حقونو ورکولو سفارش شوے ؤ خو د دې کمېشن تجويزونه هم د اسلامي ډلو د بائيکاټ له وجې عملي نۀ شو. **1958** کښې د صدر ايوب خان د جسټس رشيد

تجویزونه د فېملي لاء کمېشن برخه جوړه کړه او ښځو ته ئې د طلاق، وراثت او د ماشومانو حقونه ورکړل. په 1963 کښې د مغربي پاکستان اسمبلۍ د عالمي قوانینو په حقله تجویزونه وړاندې کړل چې وروستو په قومي اسمبلۍ کښې مسترد کړے شول. په 1967 کښې د مغربي پاکستان اسمبلۍ کښې صاحب زادي محموده بېګم د اوومې "جهېز" په لعنت د پابندۍ بل وړاندې کړو. په 1969 کښې یحیٰي خان د ښځو او ماشومانو سره په زیاتي د مرګ سزا تجویز کړه. په 1971 کښې هم لکه د 1947 د ښځو د بې حرمتۍ، قتل او تښتولو بې شمېره واقعات وشول. په 1973 کښې د 73 د آئین 25 دفعه په اتفاق رائې منظوره شوه. په دې آئین کښې د ښځو د حقونو متعلق 32-34-27 او 228 اهمې دفعې شاملې دي. په لسمه فرورۍ 1979 جنرل ضیاءالحق د مارشل لاء په دوران کښې حدود آرډیننس نافذ کړو. ضیاءالحق قانون شهادت آرډیننس هم د ترمیم نه پس نافذ کړو چې ترمخه ئې د ښځو ګواهي د پوره نه نیمې منلو ته راغله.

د حدود آرډیننس ترمخه بې شمېره بې ګناه ښځو ته د ضیاءالحق په دور کښې د کوړو وهلو سزاګانې ورکړې شوې. 1984 کښې قانون شهادت ایکټ آف پارلیمنټ جوړ کړے شو. 1985 کښې حدود آرډیننس ته پارلیمنټ آئیني تحفظ ورکړو. 1989 کښې د ضیاءالحق په دور کښې دباؤ کړے شوے رپورټ "سټېټس آف ویمن" چاپ کړو او ویمن ډویژن ته ئې د "د ښځو د ترقۍ" په نوم د مکمل وزارت درجه ورکړه. 1994 کښې "نېشنل کمېشن آن دي سټېټس آف ویمن" جوړ کړے شو. دا



کمېشن د دې دپاره قائم کړے شو چې د ښځو مسئلې به تر سپنټ رسوي. 1995 کښې اسلامي نظریاتي کونسل د ښځو د قرآن سره وادهٔ غېر اسلامي، غېر اخلاقي او قبیح رسم وګرځولو. 1997 کښې نېشنل کمېشن آف دي سټېټس آف ویمن د درېو کلونو د محنت او تحقیق نه پس د ښځو متعلق خپل معلوماتي سفارشات وړاندې کړل په دې سفارشاتو کښې د حدود آرډیننس متعلق وئیلے شوي وو چې دا قوانین په تادۍ کښې جوړ کړے شوي دي او د اسلامي اصولو سره متصادم دي، د دې نه علاوه دا قوانین د آئین د 25 دفعې او د پاکستان د بین الاقوامي ذمه واریو سره هم متصادم دي. لوستونکو ته دې یاده وي چې دا قانون د دنیا په 57 مسلم اکثریتي ملکونو کښې صرف په سعودي عرب او پاکستان کښې نافذ دے. د حدود آرډیننس تر ټولو اهمه دفعه دا ده چې د زنا بالجبر په کېس کښې به ښځه څلور بالغ مسلمانان سړي د عېني شاهدانو په توګه ګواهان وړاندې کوي. د سوچ خبره دا ده چې دغه د ظلم ښکار ښځه به څلور بالغ مسلمانان سړي ګواهان له کومه پېدا کوي؟ په ټوله دنیا کښې د زنا بالجبر په کېسونو کښې اکثر

عېني ګواه موجود نۀ وي او کۀ څلور بالغ مسلمانان سړي په خپله موجودګۍ کښې د دغه ظلم مخنيوے نۀ شي کولے نو هغوي به په عدالت کښې ګواهي څۀ وکړي؟

ښځه اوس هم د خپلو حقونو نه محرومه ده، اوس هم ښځه د تشدد ښکار ده او وخت په وخت په الېکټرانک او پرنټ مېډيا داسې رپورټونه مخې ته راځي چې د ښځې مخ په تېزابو سوزولے شوے وي. ښځه د اجتماعي زياتي ښکار شوې وي يا د غېرت په نوم وژلې شوې وي يا په نورو حوالو د انساني او نسواني حقونو خلاف ورزي شوې وي خو د پښتنو دپاره د وياړ خبره ده چې دغه قسم خبرونه او رپورټونه ډېر کم د پښتونخوا يا پښتنو سره تعلق لري. زيات کېسونه په نورو علاقو کښې کېږي، د سورې د رسم کېسونه هم د پښتنو په سيمو کښې اوس د نشت برابر دي. د پښتنو په اکثرو علاقو کښې ښځو ته د ووټ حق حاصل دے. د مختارا مائي په رنګ کېسونه چې يوه جرګه د ښځې سره د اجتماعي زياتي فېصله اوروي، د پښتنو په ټولنه کښې هېڅ امکان نۀ لري او نۀ تر اوسه د پښتنو په تاريخ کښې داسې واقعه شوې ده. پښتانۀ من حېث القوم ښځې ته ډېر احترام لري، د پښتنو په تاريخ کښې داسې بې شمېره واقعات شته چې دا خبره ترې ثابتېږي. اوس هم د پښتنو په کورونو کښې د ځنې کورنيو چارو نه علاوه د اکثرو امورو مشرې د کور مشره ښځه کوي.

کۀ څوک تېرو درېو لسېزو کښې د افغانستان او اوس اوس د سوات مثال وړاندې کوي چې د ښځو د حقونو په لويه پېمانه خلاف ورزي شوې او خصوصاً په سوات کښې د دوه سوه نه زيات سکولونه په بمونو والوزولے شول او يا وسوزولے شول چې درې برخې سکولونه پکښې د جينکو دي په دغه دوران کښې د پنځوسو زرو نه زياتې ماشومانې د تعليم نه محرومه کړې شوې.

د پښتنو اکثريت د دې صورت حال غندنه کړې ده او دا د يو بېن الاقوامي سازش برخه ده او په يوه منظمه طريقه نۀ صرف د پښتون وطن انفراسټرکچر تباه کولے شي، د دوي تعليمي ادارې په بمونو الوزولې شي او دنيا ته د پښتون يوه بدله څېره د شدت پسند په شکل کښې وړاندې کولے شي، خو يو موټے شدت پسند د کروړونو پښتنو نمائندګي هېڅکله نۀ شي کولے.

اوس اوس د اې اين پي حکومت په پنځلسمه فروري د تحريک نفاذ شريعت محمدي د مشر مولانا صوفي محمد او نورو مشرانو سره په تېرګره دير کښې کامياب مذاکرات وکړل او په شپاړسمه فروري په پښتونخوا هاؤس پېښور کښې د صوبې د ټولو سياسي ډلو او مختلف مکتبۀ فکر سره تعلق لرونکو استاځو (جماعت اسلامي نه علاوه) او د تحريک نفاذ شريعت محمدي د نمائندګانو يوه لويه جرګه وشوه چې په صلاح مشوره ملاکنډ ډويژن او کوهستان هزاره کښې د نظام عدل د نفاذ فېصله او اعلان وکړے شو. دغه سلسله روانه ده او امېد کېدے شي چې ډېر زر به د دغې نقصاناتو تلافي وشي.

Amjadshahzad2006@yahoo.com